د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتون

شرعیاتو پوهنځی

د پلان و پالیسی (ستراتېژیک پلان) فرعي کمېټه

# د شرعیاتو پوهنځي ستراتېژیک پلان

(۱۴۰۴-۱۴۰۸ هـ ش)

کال: ۱۴۰۴ هـ.ش

# فهرست


د پوهنځي د رئیس پیغام ........................................ 1

مفاهیم ........................................ 2

د شرعیاتو پوهنځي د ستراتېژیکې برنامې چوکاټ ........................................ 5

مقدمه (کلیات) ........................................ 6

لرلید ........................................ 11

ماموریت ........................................ 11

د پوهنځي ارزښتونه ........................................ 11

د پوهنتون ستراتیژیک اهداف ........................................ 12

د پوهنځي ستراتېژیک اهداف ........................................ 12

د محیطي عواملو تحلیل ........................................ 17

د داخلي چاپېریال د عواملو تحلیل ........................................ 17

د چاپېریالي عواملو مقایسه (داخلي+ بهرني) ........................................ 21

د IE روِش ........................................ 21

د SWOT روِش ........................................ 22

د شرعیاتو پوهنځي د ستراتېژیو ټاکنه ........................................ 23

د ستراتېژیو لومړیتوب ........................................ 24

د ستراتېژیک لومړیتوب ټاکنه ........................................ 30

د لنډ مهاله اهدافو ټاکل ........................................ 31

د برنامې د کړنو تدوین (عملیاتي پلان) ........................................ 32

بودیجه ټاکنه (**مالي پلان**) ........................................ 67

د ستراتېژۍ اجراء کول ........................................ 68

د ستراتېژۍ ارزونه (نتیجه) ........................................ 69

تائید او تصویب: ........................................ 69

## د پوهنځي د رئيس پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمد لله رب العلمين و الصلوة و السلام على سيد المرسلين و على آله و اصحابه اجمعين**

اَلْحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالَمِينَ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلَامُ عَلىَ اَشْرَفِ اْللأَنْبِياءِ وَالْمُرْسَلِينْ سَيِّدِناَ وَمَوْلَنَا مُحَمَّدٍ وَعَلىَ اَلِهِ وَصَحْبِهِ اَجْمَعِينْ.

اَمَّا بَعْدُ:

په یو علمي ډګر او میدان کې د کیفیت رامنځته کول څه ساده خبره نه ده، بلکه د پرمختګ په موخه قوي فکر، پراخه زغم او اوږد مهاله پلان ته اړتیا ده، په همدي اساس . د تابش پوهنتون - د شرعیاتو پوهنځي د قوي درسي منهج په لرلوسره چه د نومیالیو دیني عالمانو او د دوکتورا ترکچې د مجربو او با استعداده استادانو لخوا یې تدریسي چارې پرمخ بیول کیږي- ، هوډ کړی چې خپلې ټولنې ته د ريښتيني، باکیفیته او اغېزناک علمي خدمت ترسره کولو په موخه، پنځه کلن ستراتېژیک پلان ترتیب او تقدیم کړي.

په یاد پلان کې د پوهنتون د علمي او با تجربه استادانو او اداري کارکوونکو د ټيم تر څنګ د ټولنې دپوهه او خبیرو وګړو له نظریاتو او تجربو ګټه اخيستل شوې ده.

بناء ددغه پلان ترتیب او ټولنې ته تقديم به موږ ته دا فرصت راکړي چې خپل راتلونکې پنځه کلنې علمي کړنې، فرصتونه او ننګونې په سمه توګه مدیریت کړو او هم د پوهنتون د کاري لوړتیا او علمي غوړېدنې په ډګر کې روڼ او ډاډمن مزل وکړو .

ستراتېژیک پلان د پوهنځي ټولو برخو ته موقع ورکوي چې خپل پنځه کلن پروګرامونه د لومړیتوبونو پر اساس ډلبندي او په ډېرې اسانی سره یې تطبیق کړي .

د لوړو زده کړو وزارت د غوښتنې پر اساس، تابش پوهنتون شرعیاتو پوهنځي غواړي چې د خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو په پام کې نيولو سره په نړیوالو علمي معیارونو برابر ، ځوان قشر کادرونه وروزي او خپلې افغاني زوريدلي ټولنې ته يې وړاندې کړي، تر څو د ګرانو هیوادوالو د دردونو په درملنه کې ډېر مثبت رول اداء کړي.

زه له تاسو ټولو هيله لرم چې د دې ستراتیژیک پلان د تطبیق په لاره کې فعاله برخه واخلئ، څو زموږ ګډې هڅې زموږ پوهنځی او ټولنه له معنوي او علمي پلوه لا پرمختللې کړي.

**په درنښت**

**دوکتور اسدالله محمدي**

**د شرعیاتو پوهنځي رئيس**

## مفاهیم

**مفاهیم ( اصطلاحات)**

د ستراتېژیک پلان د پروګرام پلي کېدا چې د پوهنتون د چارو د سمون او پرمختګ لپاره بنسټیزه اړتیا ده، په لاندې مفاهیمو کې به د پروګرام هره برخه تعریف شوې ده.

**پروګرام:** د هغو اقداماتو ټولګه ده چې په اګاهانه بڼه تهیه شوې وي او خاصو اهدافو ته پکې رسیدګي کېږي. په بل عبارت؛ د موخو ترلاسه کولو لپاره یوه طرحه او نقشه ده چې دندې، مهالوېش، اړینې سرچینې او نورې کړنې څرګندوي. د پروګرام په تدوین کې باید لاندې پوښتنو ته ځوابوېونکی وي: څه شی، په کومه موخه، د چا لخوا، چېرته، څه وخت، د کومې سرچینې په مرسته او په کوم اغېز سره ترسره کېږي.

**ستراتېژي:** هغه فکري طرحه ده چې د پوهنتون موخو ته د رسېدو لپاره تدوین شوې وي. یا هغه پراخه طرحه ده چې د یو پوهنتون ټول اهداف، پالیسی، پروګرامونه او علمیاتي کړی په یو واحد قالب کې یو له بل سره ترتیبوي (تړي).

**ستراتېژیک پروګرام جوړنه:** په ستراتېژیک پلان کې لومړی د څانګو په کچه ستونزې، وړاندیزونه او ځینې طرحې ځای پر ځای کېږي او بیا ورته په عموم کې د پوهنتون د ستراتېژیک پلان له مخې د یو منظم میکانیزم پر بنسټ حللارې لټول کېږي.

**ستراتېژیک پلان:** د هغو طرحه شویو مرحلو خلاصه ده چې د یو پوهنتون کلي اهدافو ته د نورو واحدونو (ډیپارټمنټونه) اهدافو سره د تدوین په موخه نسبت (تړاو) ورکوي.

**ستراتېژیک پروګرام جوړونه:** د مدیریتي اقداماتو او پرېکړو هغه علمي او هنري ټولګه ده چې د محیطي عواملو په پام سره موخو ته د رسیدو په نیت تدوین، اجرا او ارزیابي کېږي.

**تدوین:** د ستراتېژیکې پلان جوړونې هغه برخه ده چې د لرلید، ماموریت، ارزښتونو ، اهدافو، د محیطي عواملو (داخلي او بهرنی)، تحلیل ستراتېژیک حالت ټاکل، ممکنه ستراتېژیانو ټاکنه او د ستراتېژۍ لومړیتوبونه ټاکي.

**اجرا:** د ستراتېژیک پروګرام جوړونې هغه برخه ده چې د ستراتېژیکو لومړیتوبونو، لنډمهاله اهدافو ټاکل، کلنیو کړنو، بودیجې تدوین، د پوهنتون د جوړښت طرحه کول، اجرائیوي پالیسیو تدوین، د پوهنتون د رهبرۍ د سبک ټاکل او منابعو تخصیصول مشخصوي.

**ارزیابي:** دا د  ستراتېژۍ درېیم پړاو دی چې په یو منظم میکانیزم کې پوهنتوني کړنې د لوړو زده کړو وزارت پالیسۍ او معیارونه تطبیق کړی شي.

**لرلید:** هغه ذهني تصویر دی چې د پوهنتون د اصلي ارمان هویت څرګندوي یا هغه څه چې موږ یې لاسته راوړل غواړو، په ذهني بڼه ځانته روښانوي. یعني یو لرلید باید دا پوښتنې ځواب کړي: (موږ څوک یو، څه کوو، چېرته ځو او راتلونکي رقیبان به مو څوک وي).

**ماموریت:** د تحصیلي بنسټ د شتون دلیل او مقصد روښانوي یا هغه سند دی یوه تحصیلي اداره له بلې هغې بېلوي. یعني د پوهنتون وجودي فلسفې علت روښانه کوي او دا باید روښانه، شفاف او ټولې ادارې ته قابل د فهم وي(علمي، خدمات، مطالعات، څېړنې او منابع) پکې ځای پر ځای شي.

**هدف:** د اهدافو ټاکلو څخه موخه په ګټورو مقاصدو باندې د پوهنتون د لرلید او ماموریت بدلول دي. یا هغه نقطه ده چې موږ ورته رسېدل غواړو. اهداف باید د لاسرسي وړ وي، ننګونکي، د زماني بعد لرونکي او د ترلاسه کولو شېوه یې مشخصه وي.

**ارزښتونه:** هغه باورمند او منل شوي اصول دي چې د پوهنتون اخلاقي لوړتیا او تصمیم نیونې سلوکي چلند په کې تصویرېږي. یعني د (صداقت، نوښت، تخصصي والی، مسلکي اخلاق، ګډون، مسؤلیت پذیري، ټیم ورک، شایسته سالاري...) رانغاړونکي دي.

**د داخلي عواملو مېټریکس** (IFEM (Internal factors evaluation matrix

د پوهنتون هغه بنسټیز عناصر دي چې په داخلي چاپیریال پورې تړاو لري او د بهرنیو عواملو خلاف د ادارې د لرلید تر کنترول لاندې وي او په دوو برخو وېشل کېږي: پیاوړتیاوې او کمزورتیاوې (قوت او ضعف).

**بهرني عواملو د تحلیل میټریکس** (EFEM (External factors evaluation matrix

هغه پروسه ده چې د پوهنتون لپاره د لوی محیط د فرصتونو او تهدیدونو تفسیر پرانیزي. لکه اقتصادي، سیاسي، فرهنګي، قانوني، ټولنیز او نړیوال بدلونونه په پام کې نیسي. بهرني عوامل د خپلو فعالیتونو پروړاندې د شته فرصتونونو او ننګونو عوامل څېړي او تجزیه او تحلیلوي یې.

**د داخلي او بهرني عواملو مېټریکس** (IE (Internal and external

دا مېټریکس داخلي او بهرني عواملو مقایسې لپاره د مطالعې یا تطبیق یو ښه زمینه ساز سیستم دی. ددې له لارې ستراتېژي په ښه شکل تطبیقېدلی شي او هم د کوچنیو ستراتېژیو ټاکلو ته لار پرانیزي.

**سوات: قوت، کمزورتیا، فرصت او تهدید** (SWOT (Strengths, weakness, opportunity and threat

دا د قوت (Strengths)، ضعف (weaknesses)، فرصت (opportunities) او تهدید (threats) لنډیز دی چې دا روش د ستراتېژۍ د تدوین وسیله ګڼل کېږي. ددغه تحلیل په واسطه دا چاره شونې کېږي چې لومړی داخلي تجزیه او تحلیل شي او دویم قدم کې د سازمان پیاوړتیاوې له محیطي فرصتونونو سره متوازن کړي.

**قوت (Strengths):** هغه ممتازه شایسته ګي ده چې په واسطه یې پوهنتون کولی شي د خپلو رقیبانو، تامینوونکو او پیرودونکو ترمنځ مثبت ذهني انځور او نور مهم اړخونه پام کې ونیسي.

**ضعف (weaknesses):** په امکاناتو، منابعو او مهارتونو کې هغه محدودیت دی چې په محسوس ډول د پوهنتون چارو پرمخ خنډ جوړېدلی شي.

**فرصت (opportunities) :** هر هغه بیرونی عامل چې د پوهنتون ماموریت سره مرسته کوي. یا هغه پټ ظرفیت دی چې پوهنتون سره د مثبتې پرمختیا پر لور مرسته کوي او ترې ګټه اخیستنه به یې له ځان سره تحصیلي بنسټ ته د پام وړ مزیاوې ولري.

**تهدید (threats):** په بهرني چاپیریال کې د چنه زنې او نامطلوب بریا میزان ته وایي لکه د بنسټیزو تامینوونکو او اخیستونکو د چنو وهلو وړتیا، د تکنالوژۍ د ناڅاپي او لوی بدلون او نور هغه موارد چې د پوهنتون یا تحصیلي بنسټ پرمخ لوی ګواښ ګڼل کېدای شي.

**SO/ تهاجمي ستراتېژي:** پوهنتون غواړي ددې ستراتېژۍ په مرسته د خپل داخلي قوت په واسطه بیرونیو فرصتونو څخه ګټه واخلي.

**Wo/ محافظه کاره (ځان ساتونکې) ستراتېژي:** په دغې ستراتېژۍ سره تحصیلي بنسټ د خپلو بهرنیو فرصتونو په موجودیت داخلي کمزورتیاوو ته قوت ورکوي.

**ST/ رقابتي ستراتېژي:** په دغې ستراتېژۍ سره تحصیلي بنسټ د خپل قوت په نقطو د خپل بهرني محیط تهدیدات کموي/ له منځه وړي.

**WT/ تدافي (دفاعي) ستراتېژي:** پوهنتونونه او تحصیلي بنسټونه په دغې ستراتېژۍ سره غواړي دفاعي حالت غوره کړي. یعني هڅه کوي خپله داخلي کمزورتیا او بهرني محیط تهدیدات کم کړي.

**د کمیتي ستراتېژیک پلان جوړونې مېټریکس (Quantitative strategy planning Matrix) QSPM :** له دې تګلارې څخه په ګټه اخیستنې سره د ستراتېژیانو بېلابېلې برخې پېژندل کېږي او د تطبیق پرمهال تر ارزونې لاندې نیول کېږي. دا مېټریکس د هرې ستراتېژۍ لپاره لومړیتوب ټاکل. د تطبیق په مرحله کې تر ارزیابۍ لاندې نیول کېږي. د تحصیلي بنسټونو اړوند مسؤلین او پلان جوړونکي د ستراتېژیو نسبي راښکون او لومړیتوب ته په پام سره د غوره ستراتېژۍ د ټاکنې په اړه پرېکړه کوي چې په مرسته یې کولی شو له څو ستراتېژیو وړ او مناسبه ستراتېژي غوره او وټاکو.

## د شرعیاتو پوهنځي د ستراتېژیکي برنامې چوکاټ



## مقدمه (کلیات)

شرعیاتو پوهنځی د اسلامي علومو د تدریس، څېړنې او پلې کولو یوه بنسټیزه علمي مرجع ده، چې د شرعي نصوصو پر ژور فهم، د اسلامي فقهې، اصولو، عقایدو، تفسیر، حدیث، او معاصرې نړۍ ته د دیني احکامو د تطبیق پر بنسټ ولاړ دی. دا پوهنځی د تابش پوهنتون په علمي جوړښت کې ځانګړې ارزښت لري، ځکه چې موخه یې د داسې دیني متخصصینو او عالمانو روزنه ده چې د اسلامي امت د معنوي، اخلاقي، حقوقي او ټولنیزو اړتیاوو د پوره کولو توان ولري.

د علمي کیفیت لوړول، نوښتګر تدریس، معیاري څېړنې، او ټولنې ته د اغېزمنو دیني او شرعي خدماتو وړاندې کول، د شرعیاتو پوهنځي د ستراتیژیک تمرکز اساسي برخې جوړوي. دا پلان هڅه کوي چې د اسلامي شریعت ارزښتونه د معاصر ژوند له اړتیاوو سره همغږې کړي، او د داسې یو متوازن دیني لید ترویج ته وده ورکړي چې هم پر دیني متونو ژوره پوهه ولري او هم د زمان او مکان تقاضاوې درک کړي.

دا ستراتیژیک پلان، چې د پوهنتون د عمومي ستراتیژۍ سره همغږی لري، د ملي او نړیوالو معیارونو په رڼا کې جوړ شوی دی. د سند د جوړولو په بهیر کې د پوهنځي د استادانو، محصلینو، اداري کارکوونکو او اړوندو علمي شریکانو نظریات، وړاندیزونه او اړتیاوې په پام کې نیول شوي، ترڅو یو واقعي، تطبیقېدونکی او هدفمند پلان رامنځته شي.

دغه سند به د شرعیاتو پوهنځي د رهبرۍ، علمي کادر، محصلینو او نورو ښکېلو غاړو لپاره د تصمیم نیولو اساسي چوکاټ وي، چې د علمي کچې د لوړوالي، څېړنیزو فعالیتونو د پراخوالي، تدریس د معیاري کولو، او ټولنې ته د دیني لارښوونې د مؤثر رول لپاره دوامداره لاره برابره کړي.

موږ باور لرو چې د دې ستراتیژیک پلان پلي کېدل به د شرعیاتو پوهنځي لپاره یو منظم، بااعتباره، او د پرمختګ پر لور روان مسیر رامنځته کړي، چې پایله به یې د داسې دیني متخصصینو روزنه وي چې د اسلامي ارزښتونو او معاصر ژوند ترمنځ پُل جوړولی شي، او د ټولنې لپاره رڼا او لارښود واقع شي

شرعیاتو پوهنځی د تابش پوهنتون له بنسټیزو علمي واحدونو څخه دی، چې د لوړو زده کړو وزارت د تحصیلي ستراتیژۍ، د خصوصي سکتور د ملاتړ، او د معیاري لوړو زده کړو د پراختیا په موخه په ۱۳۸۹ هـ ش کال  د فقه او قانون څانګې  په درلودلو سره خپل فعالیت د کابل ښار لبجر ځلور لارې ساحه کې پیل کړ.

د ۱۴۰۳هـ ش کال د خزاني سمستر د برحال محصلینو احصائیه

| ګڼه | پوهنځی | ډیپارټمنت | برحال محصلینو شمېر | فارغانو شمېر |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | شرعیات | فقه او قانون | | |
| جمله | | | | |

**د پنځه کلني بودیجې لنډیز**

د تابش پوهنتون شرعیاتو پوهنځی پنځه کلن ( ۱۴۰۳هـ ش – ۱۴۰۸) د پلان شویو برنامو ټوله عادي بودیجه (۱۷۸۵۲۰۰۰) اووه لس میلیونه، اته سوه دوه پنځه پنځوس زره افغانی تعین او تائید شوې ده.

**د تېرو ستراتیژیانو د موفقیت اندازه**

د شرعیاتو پوهنځی د تېر ستراتېژیک پلان (۱۳۹۹-۱۴۰۳) اړوندې ستراتېژیانې د دریو عمده مسایلو (۱- کرونایي وضعیت، سیاسي بدلون او د مالکیت تغیر) له امله په هغه بڼه چې پلان شوې وې، تطبیق نه شوې خو د شته متعهد بشري ځواک پرمټ بیا هم دغه ستراتېژی شاوخوا ۸۳٪ پورې تطبیق شوې دی.

**د تېرو ستراتیژیانو د عدم موفقیت موارد**

- د سیاسي بدلون سره د نصاب د مطابقت کچې کموالی
- د نصاب د دوره یي کتنې عدم بشپړتیا
- د پوهنتون د مالکیت د تغیر په جریان کې د دوو کلونو فعالیتونه متاثره کېدل
- تېر ستراتېژیک پلان یو اندازه اوسني رهنمود عدم مطابقت.
- د کرونا او هیواد کې د سیاسي بدلون له امله د ځینو برنامو دقیق تطبیق ونه شو

**د اداري کارکوونکو شمېر**

**د شرعیاتو پوهنځي د ټولو اداري کارکوونکو او خدماتي پرسونل شمېر ( ۴ ) تنو ته رسېږي (۱۴۰۳هـ ش).**

| اداري کاکوونکي | | |
|---|---|---|
| نارینه | **ښځینه** | **ټول** |
| ۳ تنه | . | **۳ تنه** |
| خدماتي کارکوونکي | | |
| نارینه | **ښځینه** | **ټول** |
| ۱ تنه | . | **۱ تنه** |

**د تحصیلي درجې پر بنسټ د شرعیاتو پوهنځي د اداري کارکوونکو جدول (۱۴۰۳هـ ش)**

| جنسیت | تحصیلي کچه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | دوکتور | ماستر | لېسانس | بکلوریا | ټول |
| نارینه | ۱ | ۱ | ۱ | | ۳ |
| ښځینه | | | | | |

**د شرعیاتو پوهنځي علمي کادر غړي**

**شرعیاتو پوهنځی په ۱۴۰۳هـ ش کال کې فقه او قانون ډیپارټمنټ په تدریسي بهیر کې بوختو علمي کادر غړو شمېر (۱۴) تنو ته رسېږي چې لاندې جدول کې د علمي رتبې او تحصیلي کچې په پام کې نیولو سره لېست شوي دي.**

**جدول**

| شرعیاتو پوهنځی | | | |
|---|---|---|---|
| جنسیت | دوکتور (PHD) | ماستر | لېسانس |
| نارینه | ۳ | ۱۰ | ۱ |
| ښځینه | ۰ | ۰ | ۰ |
| ټول | ۱۴ تنه | | |

**د محصلینو شمېر**

**په تېرو پنځو کلونو کې د شرعیاتو پوهنځي د محصلینو د جذب کچه د لاندې جدول له مخې لېست شوی دی:**

**احصائیوي جدول او ګراف**

| کال | جنسیت | شرعیاتو پوهنځی | ټول |
|---|---|---|---|
| ۱۳۹۹ | نارینه | ۰ | ۲۹۹ تنه |
| | ښځینه | ۰ | |
| ۱۴۰۰ | نارینه | ۰ | |
| | ښځینه | ۰ | |
| ۱۴۰۲ | نارینه | ۱۱۲ تنه | |
| | ښځینه | ۰ | |
| ۱۴۰۳ | نارینه | ۱۰۰ تنه | |
| | ښځینه | ۰ | |

**د فارغانو احصائیوي جدول او ګراف**

| کال | شرعیاتو پوهنځی |
| --- | --- |
| ۱۳۹۹ | ۵۰ تنه |
| ۱۴۰۰ | ۳۴ تنه |
| ۱۴۰۱ | ۱۳ تنه |
| ۱۴۰۲ | . |
| ۱۴۰۳ | . |
| ټول | ۹۷ تنه |

**د شرعیاتو پوهنځي د برحال محصلینو شمېر (۱۴۰۳هـ ش)**

| کال | جنسیت | | ټول |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱۴۰۳ | نارینه | ۱۸۷ | ۱۸۷ تنه |
| | ښځینه | ۰ | |

لوړو زده کړو وزارت
تابش پوهنتون ریاست
شرعیاتو پوهنځی

# د شرعیاتو پوهنځي تشکیل



## لرلید

د شرعیاتو پوهنځي ژمن دی، چې شرعي او قانون برخه کې د اعتدال په روحیه سمبال علمي کاردونه وروزي.

## ماموریت

شرعیاتو پوهنځی د اسلامي ارزښتونو په پام کې نیولو سره ژمن دی او مسلکي وګړي روزي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کوي.

## د پوهنځي ارزښتونه

شرعیاتو پوهنځی په خپلو تحصیلي، اداري، تدریسي، څېړنیزو، مالي او حسابي چارو کې د لاندې ذکر شویو ارزښتونو رعایت ته ژمن دی او د یادو ارزښتونو ته درناوی لري.

### ۱- اسلامي ارزښتونو ته پابندي.

شرعیاتو پوهنځی د اسلامي شریعت پر اصولو ولاړ دی، د اړوند خدماتو ارایه کولو یا د خپلو اجراءاتو پر مهال اسلامي ارزښتونو ژمن او پابند اوسي او په هیڅ صورت اجازه نه ورکوي چې څوک په زده کړیز چاپیر یال او کاري پروسو کې د اسلامي ارزښتونه خلاف عمل ترسره کړي.

### ۲- صداقت او امانتداري

صداقت او امانت داري ، د اسلامي اخلاقو مهم اصل ګڼل کیږي، شرعیاتو پوهنځي په ټولو علمي او اداري چارو کې ریښتینولي، شفافیت او امانت ساتنې ژمنتیا اساسي مسؤولیت لري.

### ۳- تعهد او مسؤلیت.

شرعیاتو پوهنځي هر کارکوونکی  خپل مسوولیت بشپړولو ته ژمن ګڼي او د علمي خدمت په وړاندې کولو کې صداقت لري. زموږ هدف د تعهد له لارې د ښوونیزو او ټولنیزو موخو تحقق دی.

### ۴- معیاري زده کړې

د شرعیاتو پوهنځي زده‌کوونکو ته د نړیوالو او ملي معیارونو سره برابر تعلیمي خدمات وړاندې کړو، ترڅو هغوی د پوهې، مهارتونو او اخلاقي ارزښتونو له پلوه چمتو او سیال وي.

### ۵- اکاډمیک ازادي:

شرعیاتو پوهنځی خپلو کادري او اداري کارکوونکو  سر بیره خپلو زده کړیالانو لپاره د فکر، تحقیق او تدریس بشپړه علمي ازادي تضمینوي، ترڅو علمي روڼتیا، او انتقادي تفکر ته زمینه برابره شي.

### ۶- نوښت او خلاقیت

شرعیاتو پوهنځی د اسلامي اصولو په رڼا کې نوښت او خلاقیت ته ژمن دی  ترڅو د پوهې تولید، ټکنالوژۍ پراختیا او ټولنیزو ستونزو ته علمي لار ومومي.

### ۷- متقابل درناوی

متقابل درناوی د شرعیاتو پوهنځي یوه بنستیزه ارزښت دی چې په کې د یو بل عزت او حقونو ته پاملرنه کیږي او کوښښ کوي چې د سالمو اړیکو، ګډ ژوند او ښو اخلاقو  سربیره بااحترامه اکاډمیک چاپېریال ولري.

### ۸- تیم ورک او همغږي

شرعیاتو پوهنځی د ګډو هڅو، یووالي، همکارۍ او همغږۍ باور لري، ترڅو  د ښو پایلو، ګډو تصمیمونو او اغېزمنو فعالیتونو لپاره بنسټیز ملاتړ رامنځته شي.

### ۹- ټولنیزه باورمندي

شرعیاتو پوهنځی د ټولنې پر وړاندې ژوره مسؤلیت لري او د خپلو علمي او مسلکي پوهې په بنسټ هڅه کوي چې د ټولنې اړتیاوې په دقیقه توګه وپېژني، ستونزې تحلیل او عملي حل لارې وړاندې کړي.

## د پوهنتون ستراتیژیک اهداف

1. د رهبرۍ، مدیریت سیستم، اکاډمیکو فعالیتونو او پالیسیو پراختیا
2. د علمي او اداري پرسونل ظرفیت لوړونه
3. د لېسانس او فوق لیسانس برنامو ایجاد او پراختیا
4. د علمي برنامو دوره یي کتنه او نصابونو ارزونه
5. څېړنیزه پراختیا او علمي نوښت ته وده  ورکول
6. داخلي او بهرنیو  اړیکو پراختیا
7. د کیفیت لوړونه، اعتبار اخیستنه او ساتنه
8. د برېښنایي زده کړو او معلوماتي تکنالوژۍ سیستم پراختیا
9. له مختلفو لارو د عوایدو وده او پراختیا
10. د زېربناوو پیاوړتیا او پراختیا

## د پوهنځي ستراتېژیک اهداف

1. د اداري سیستم پیاوړتیا
2. تدریسي او اداري ظرفیت لوړونه
3. د اړتیا وړ نویو علمي برنامو ایجاد
4. د نصابونو تدوین، تطبیق او ارزونه
5. کیفیت لوړونه او اعتبار ساتنه
6. څېړنیزه وده او علمي نوښت
7. د برېښنایي زده کړو پیاوړتیا او پراختیا
8. د اړیکو پراختیا
9. عایداتي سرچینو موندل
10. د زېربنا او تجهیزاتو پراختیا

**لومړۍ ستره موخه: څېړنیزه پراختیا، علمي وده او نوښت**

شرعیاتو پوهنځی د خپلو راتلونکو پنځو کلونو په اوږدو کې د لوړو زده کړو وزارت د ستراتېژیکو اهدافو د تحقق په پام کې نیولو سره د ټولنیزو ستونزو د حل په موخه څېړنیزې ودې، پراختیا او مسلکي ظرفیت سازۍ په برخه کې غواړي لاندې فعالیتونه ترسره کړي:

- د ټولنې څېړنیزه اړتیا ارزونه کول
- علمي کادر غړو ته د څېړنیزې ظرفیت سازۍ زمینه برابرول
- د څېړنیزو پروژونو ترلاسه کولو طرحې جوړول
- معاصرو څېړنیزو سیستمونو سره د استادانو او محصلینو بلدتیا
- استادانو او محصلینو څیړنیزو پروژو لپاره مالي امکانات (Research grant) ترلاسه کول
- په څېړنیزو پروسو کې بوختو استادانو او محصلینو ته اړینې اسانتیاوې برابرول
- څېړنو معاونیت رامنځته کول
- د څېړنیز ملي او بین المللي ژورنال جواز ترلاسه کول
- د څېړنیز مرکز ایجادول
- د اړتیا په پام کې نیولو سره د نویو علمي برنامو ایجادول
- اکاډمیکو فعالیتونو ته وده او انکشاف ورکول
- د اکاډمیکو برنامو د پاینښت لپاره د اغېزناکو ستراتېژیو تطبیق ته زمینه برابرول

**دویمه ستره موخه: اداره او رهبري، د سیستم جوړول او اداري فساد له منځه وړل**

د اداري سیستم د نظم او ثبات لپاره د مدیریتي روښونو د غوره تطبیق او مسلکي اشخاصو ګمارنه له بنسټیزو اصولو څخه ګڼل کېږي. لوی اداري او سازمانونه د خپلو رقابتي فعالیتونو د ګټورو اجراآتو لپاره غوره رهبرۍ او مجرب کاري ټیم ته اړتیا لري چې د ستراتېژیکو موخو د تحقق ظرفیت ولري. شرعیاتو پوهنځی غواړي په راتلونکو پنځو کلوو کې د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره خپل سازماني جوړښت په داسې بڼه عیار کړي چې په سیمه کې د یو نمونه یي سیستم په حیث و پېژندل شي:

- پیاوړی تشکیلاتي جوړښت او معاصر مدیریتي سیستم لرل
- د معلوماتي ټکنالوژۍ په وسیله د پوهنتون اداري سیستم نښلول
- شفافیت او ځواب ورکولو فرهنګ عامول
- اړوندو ادارو سره د اړیکو پراختیا او پیاوړتیا ته زمینه برابرل
- د اداري مراسلاتو او اسنادو ډاډمن خوندیتوب
- په چارو کې د همغږۍ پیاوړتیا

- د اداري فساد مخنیوي اړوند تولیيز پوهاوی.
- د لوړو زده کړو وزارت د اړوندو تقنیني اغېزناک تطبیق
- د پوهنتون له تطبیق چارو څارنه او ارزونه کول
- په عادلانه بڼه د مجازاتو او مکافاتو د اصل پلي کول.

**درېیمه ستره موخه: د نصابونو بیا کتنه، پراختیا او تدوین**

د نړۍ چټک پرمختیایي بدلون او رقابتي هڅو ته په کتو افغاني ټولنه په ټولو برخو کې پام وړ بدلونونو او نوښتیزو خواریو ته اړتیا لري. تحصیلي بنسټونه د خپلو فعالیتونو په چوکاټ کې مکلف دي چې خپلې علمي برنامې او کریکولمونه د وخت، بازار او حالاتو د غوښتنو عیارې کړي. شرعیاتو پوهنځی هم نوښت او خلاقیت ته په ژمنتیا سره هڅه کوي نصابي محتوا کې مثبت بدلونونه او معاصرې غوښتنې ځای پر ځای کړي. دې برخې سره د مسؤلانه او مسلکي چلند په موخه لاندې فعالیتونه د راتلونکو پنځو کلونو لپاره په پام کې نیول شوي دي:

1. د پوهنتون په کچه د کریکولم د کمېټې پیاوړې کول.
2. د نصابونو د کلنۍ ارزونې سیستم پیاوړی کول
3. د نصابونو د دوره یي کتنو پروسې ته وده او پراختیا ورکول
4. له اړتیا سره سم له نړیوالو پوهنتونونو سره د کریکولم په بیا سمونه کې ملتیا.
5. له نړیوالو معتبرو پوهنتونونو څخه د نویو چاپ شویو تدریسي کتابونو ترلاسه کول.
6. له تاکل شوي کریکولم سره سم د درسي موادو تهیه او برابرول.
7. د نصاب تطبیقي ارزونه او راپور ورکونه
8. د نصابونو اصلاحي کتنه او پیاوړتیا

**څلورمه ستره موخه: په لوړو زده کړو بنسټونو کې د تضمین کیفیت نظارت، ارزونه او بهبود**

تحصیلي بنسټونه مکلف دي د ملي او نړیوالو باثباته معیارونو په پام کې نیولو سره د خپلو اکاډمیکو فعالیتونو بهیر د څارنې او ارزونې تر اشراف لاندې باکیفیته او پیاوړي وساتي. په دې اړه د کیفیت لوړونې د معیارونو غوره تطبیق او اعتبار ساتنه له مهمو باوري فعالیتونه څخه دي چې شرعیاتو پوهنځی یې د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره د راتلونکو پنځو کلونو په اوږدو کې ترسره کوي:

1. د پوهنتون کیفیت لوړونې کمېټې د چارو تقویتي ظرفیت لوړونه
2. د کیفیت لوړونې معیارونو د تفسیر روزنیزې برنامې چمتو کول
3. د تضمین کیفیت د معیارونو د تطبیق ارزونه
4. د ملي او نړیوال تضمینوونکو ادارو څخه د کېفیت تضمین او اعتبار لاسته راوړل.
5. له معاصرو نړیوالو معیارونو سره د پوهنتوني برنامو همغږي کول

6. د عملي او نظري زده کړو کيفيت لوړونې ته ځانګړې پاملرنه
7. د کيفيت لوړونې او اعتبار ساتنې په موخه له نورو تحصيلي بنسټونو سره همغږي لرل.

**پينځمه ستره موخه: د برېښنايي زده کړو پراختيا او پياوړتيا**

تکنالوژيکي پرمختيا او برېښنايي زده کړې د ننني نړۍ د رقابتي پياوړتيا او ځان رسونې تر ټولو چټک او معاصر وسايل دي چې تحصيلي برخه يې له يو ځانګړي بدلونون منونکي حالت سره مخ کړې ده. شرعياتو پوهنځی د خپل علمي او څېړنيز بهير د پياوړتيا او مؤثريت په موخه د برېښنايي اسانتياوو په چمتو کولو سره نوښت او مثبت بدلون ژمن دی او په دې برخه کې د چارو د لاګېورتوب په موخه راتلونکو پنځو کلونو په اوږدو کې لاندې فعاليتونه ترسره کوي:

1. پوهنتون کې د برېښنايي زده کړو کمېټې پياوړي کول.
2. د برېښنايي زده کړو په اړه علمي کادر غړو ته د روزنيزو برنامو برابرول.
3. اړوندو برخو کې برېښنايي زده کړو ته وده ورکول
4. د برېښنايي زده کړو پراختيا او پرمختيا په موخه ځانګړې پاليسي جوړول
5. د پوهنتون ټولو محصلينو ته د برېښنايي زده کړو په تړاو روزنيزې برنامې برابرول

**شپږمه ستره موخه: زېربناوو ته وده او پراختيا ورکول**

فزيکي سرچينې او امکانات د اداري سيستم د اجرائيوي کړنو د ترسراوي بنسټيزې اړتياوې دي چې خپلو سترو اهدافو ته د رسېدو سهوليت پذيره زمينه سازي کوي. تحصيلي بنسټونه هم د خپلو علمي او څېړنيزې ودې په موخه زېربنايي پروژونو، لګښتونو او پراختيا ته اړتيا لري چې سمه بنه د پرمخ شته برنامو د تطبيق ظرفيت ولرلی شي. شرعياتو پوهنځی په دې برخه کې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره لاندې چارې ترسره کوي:

1. د پوهنتون لپاره خپل دايمي ځای برابرول
2. د باکيفيته تدريس لپاره اړتياوړ اسانتياوې برابرول
3. زېربېناوو ته پراختيا او وده ورکول.
4. د اداري، تخنيکي او مديريتي چارو سمون او پراختيا.
5. د په معلوماتي تکنالوژۍ سنبال اداري سيستم رامنځته کول
6. د فزيکي کتابتون غني کول او ديجيتل کتابتون

**اوومه ستره موخه: د علمي کادر غړو او کارکوونکو ظرفيت لوړونه**

د نړۍ چټک بدلونونه او مخ پر ودې نوښتيز رقابتونه دا ايجابوي چې هره اداره دې د خپلو بشري سرچينو معاصرې ظرفيت جوړونې ته پوره دقت او پاملرنه وکړي. تابش پوهنتون رهبري هڅه کوي له حالاتو او پرمختيايي بدلونونو سره د ځانجوړونې اړتيا ته په پوره پام د پوهنتون د بشري کتلې ظرفيت سازي او پرمختيا خپلو لومړيتوبونو کې ځای پر ځای کړي. تابش پوهنتون د خپل کادري او اداري ځواک د لاغښتلتيا په موخه راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې فعاليتونه **ترسره کوي:**

1. د علمي کادر غړو ته په ماسترۍ او دوکتورا برنامو کې د زده کړو زمينه برابرول.
2. اداري کارکوونکو ته د ظرفيت لوړونې روزنيزې برنامې چمتو کول
3. علمي کادر غړو ته د تدريس د نويو روشونو (OBE- SCL) روزنېزې برنامې برابرول.
4. د ستراتيژيک پلان د اغېزناک تطبيق په موخه کارکوونکو ته روزنيزې برنامې برابرول
5. علمي کادر غړو او محصلينو ته د څېړنيزې پياوړتيا روزنيزې برنامې برابرول

**اتمه ستره موخه: د تقنيني او تخنيکي سندونو تدوين او بياکتنه**

اداري چارې د ځانګړو اصولو او قواعدو تر اشراف لاندې د اجرائيوي مشروعيت په ډاډ سره مخته ځي چې تقنيني او تخنيکي اسناد يې د اعتبار بنسټونه دي. تحصيلي ادارې مکلفې دي د خپلو فعاليتونو د نظم او حساب ورکونې شفاف بهير رامنځته کولو په موخه اړوندو اسنادو کې ابهام او پېچلتيا ته د بياکتنې د اړتيا پر بنسټ ځانګړې تعديلي طرحې جوړې او اړوندو تخصصي او مسلکي اشخاصو په مرسته يې معقولې حلارې و موندل شي. شرعياتو پوهنځی د دغې چارې د ښه ترسراوي په موخه راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې فعاليتونه ترسره کوي:

1. د پخواني تقنيني سندونو بياځلې کتنه
2. د تقنيني اسنادو تعديل
3. د اړتيا په اساس د نوي تقنيني اسنادو تدوين
4. د تقنيني اسنادو د ټکرونو او تناقضاتو له منځه وړل
5. د پخوانې طرزالعلونو  او مکانيزونو کره کتنه او تجديد نظر
6. د اړتيا پر اساس د نوي طرزالعلونو او مکانيزمونو تدوين.

**نهمه ستره موخه: د اکاډميکو او غير اکاډميکو بنسټونو سره د اړيکو پراختيا او پياوړتيا**

اړيکي د انساني اړتياوو، نوښتونو او ښې همکارۍ تر ټولو بهترينه لار ده چې تحصيلي بنسټونه يې له اړوندو ادارو سره د همکارۍ په مثبته روحيه يو د بل ملاتړ ته هڅولې دي. د تجربو شريکولو، ظرفيت لوړونې او مرستو جلبولو اغېزناکه لار هوکړه ليکونه دي چې د تحصيلي بنسټونو ترمنځ ښې همغږۍ او معقولې همکارۍ ته زمينه سازي کوي. شرعياتو پوهنځی راتلونکو پنځو کلونو کې اړوندو ادارو سره د هوکړه ليکونو لاسليکول او تر ګټه اخيستنې په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د پخوانيو تواميتونو بياکتنه او ګټه اخيستنې ارزونه
2. له اړوندو ادارو سره د تواميتونو او اړيکو اړتيا ارزونه
3. د اړتيا پر اساس اړوندو بهرنيو ادارو سره هوکړه ليکونه لاسليک کول
4. د اړتيا پر اساس اړوندو داخلي ادارو سره هوکړه ليکونه لاسليکول
5. له لاسليک شويو هوکړه ليکونو څخه د ګټه اخيستنې عملي ارزونه ترسره کول
6. له نورو لارو څخه د عوايدو رامنځته کولو بوري رامنځته کول

**لسمه ستره موخه: لوړو زده کړو ته عادلانه لاسرسی او د محصلينو د وړتياوو د ودې په موخه خدماتو وړاندې کول**

تحصيلي بنسټونه مکلف دي چې پرته کوم توپير څخه د ټولنې ټولو اړوندو ونډه اخيستونکو ته په عادلانه ډول تحصيلي خدمات وړاندې او د باکيفيته پايلو په ترلاسه کولو سره يې راتلونکی تضمين کړای شي. دې لپاره شرعياتو پوهنځی لاندې فعاليتونه راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کوي:

1. د بازار د غوښتنو مطابق باکيفيته تحصيلي خدمات
2. د لوړو زده کړو د اهميت په اړه وګړو ته عامه پوهاوی ورکول.
3. د ظرفيت لوړونې په برنامو کې د محصلينو عادلانه ونډه اخيستنې ته زمينه برابرول
4. پرته له توپيره ټولو هېوادوالو ته د لوړو زده کړو مؤثره زمينه برابره
5. د ټولنې د اړتيا او غوښتنې مطابق نويو علمي برنامو ايجادول

## د محيطي عواملو تحليل

محيطي عوامل د هغو فکتورونو ټولګه ده چې د پوهنتونونو په ستراتېژيانو مستقيم اغېز لري. د محيطي عواملو په تحليل کې د پوهنتون فعلي، تخصصي عمومي وضعيت او دورې ارزول کېږي او وروسته بيا د لوړو زده کړو زوارت د لويو اهدافو په پام کې نيولو سره معلومات بشپړېږي.

## د داخلي چاپيريال د عواملو تحليل

د تابش پوهنتون د داخلي چاپيريال پياوړتيا او کمزورتيا عوامل په پرلپسې بڼه ترتيب او په لاندې بڼه کټګوري شوي دي.

**پياوړتيا:**

۱- د باکيفيته تحصيلي برنامو شتون

۲- د استادانو، کارکوونکو او محصلينو ترمنځ د همکارۍ شتون

۳- د محصل محوره او پر پايلو ولاړو زده کړيزو روشونو د تطبيقي ژمنتيا شتون

۴- استادانو، کارکوونکو او محصلينو ظرفيت لوړونې برنامو شتون

۵- د مسلکي او متعهدو استادانو کارکوونکو شتون

٦- په اجرائيوي برخه کې د ځانګړو پاليسيو، طرزالعملونو او ميکانيزمونو شتون

۷- د څارنې او ارزونې د اغېزناک سيستم شتون

۸- له تدريسي بهير څخه د محصلينو د رضايت شتون

۹- د ښو زده کړييزو امکاناتو او تجهيزاتو شتون

**کمزورتيا:**

۱- د پوهنځي لپاره ځانګړې علمي مجلې نه شتون

۲- د فوق لېسانس برنامو نه شتون

۳- د دايمي علمي کادر غړو کمښت

۴- د بديلو مالي سرچينو نه شتون

۵- په نړيوالو او ملي ژورنالونو کې د پوهنځي د څېړنيزو مقالو کمښت

٦- په کارکوونکو د کاري حجم زیاتوالی

**IFEM (Internal factors evaluation matrix)**

| شمېره | داخلي عوامل (پیاوړتیا او کمزورتیا) | وزني ضریب | وزني امتیاز | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د باکیفیته تحصیلي برنامو شتون | 0.07 | 4 | 0.28 |
| ۲ | د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ترمنځ د همکارۍ شتون | 0.06 | 4 | 0.24 |
| ۳ | د محصل محوره او پر پایلو ولاړو زده کړیزو روشونو د تطبیقي ژمنتیا شتون | 0.07 | 3 | 0.21 |
| ۴ | استادانو، کارکوونکو او محصلینو ظرفیت لوړوني برنامو شتون | 0.08 | 4 | 0.32 |
| ۵ | د مسلکي او متعهدو استادانو کارکوونکو شتون | 0.07 | 3 | 0.21 |
| ٦ | په اجرائیوي برخه کې د ځانګړو پالیسیو، طرزالعملونو او میکانیزمونو شتون | 0.07 | 4 | 0.28 |
| ۷ | د څارني او ارزوني د اغېزناک سیستم شتون | 0.07 | 3 | 0.21 |
| ۸ | له تدریسي بهیر څخه د محصلینو د رضایت شتون | 0.08 | 4 | 0.32 |
| ۹ | د ښو زده کړییزو امکاناتو او تجهیزاتو شتون | 0.07 | 3 | 0.21 |
| ۱۰ | د پوهنځي لپاره ځانګړې علمي مجلې نه شتون | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۱۱ | د فوق لیسانس برنامو نه شتون | 0.07 | 2 | 0.14 |
| ۱۲ | د دایمي علمي کادر غړو کمښت | 0.08 | 2 | 0.16 |
| ۱۳ | د بدیلو مالي سرچینو نه شتون | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۱۴ | په نړیوالو او ملي ژورنالونو کې د پوهنځي د څېړنیزو مقالو کمښت | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۱۵ | په کارکوونکو د کاري حجم زیاتوالی | 0.04 | 1 | 0.04 |
| ټوټل | | 1 | | 2.69 |

د بهرني چاپيريال د تحليل عوامل

**فرصتونه:**

۱- د لوړو زده کړو وزارت لخوا څېړنيزې پراختيا او پياوړتيا ته ځانګړې پاملرنه

۲- د شرعياتو پوهنځي له نوم او شهرت څخه د خلکو رضايت

۳- د اکاډميکې اعتبار اخيستنې زمينه سازی شتون

۴- په سيمه ييزه کچه د څېړنيزو پروژو او اقتصادي ودې لپاره د مساعد چاپيريال شتون

۵- په ټولنه کې د زده کړو د لېوالتيا شتون

٦- د لوړو زده کړو قوانينو او مقرراتو کې تغير اوا اسانتياوې راتلل

۷- له نورو اړوندو دولتي او خصوصي پوهنځيو او ادارو سره د ښو اړيکو او همکارۍ شتون

**ګواښونه:**

۱- د خلکو کمزوری اقتصادي وضعيت

۲- د مسلکي او با استعداده بشري قوې کمښت

۳- له ښوونځيو او مدارسو د فارغو زده کړيالانو د تعليمي سويې ټيټوالی

۴- د خصوصي پوهنتونونو په کانکور ازموينو کې د ځوانانو کمرنګی ګډون

۵- له هېواده د ځوانانو فرار

٦- د کاري فرصتونو کموالی

## EFEM (External factors evaluation matrix)

| شمېره | بهرني عوامل (فرصتونه او ګواښونه) | وزني ضريب | وزني امتياز | موزون ضريب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د لوړو زده کړو وزارت لخوا څېړنيزې پراختيا او پياوړتيا ته ځانګړې پاملرنه | 0.08 | 4 | 0.32 |
| ۲ | د شرعياتو پوهنځي له نوم او شهرت څخه د خلکو رضايت | 0.08 | 3 | 0.24 |
| ۳ | د اکاډميکې اعتبار اخيستنې زمينه سازی شتون | 0.07 | 3 | 0.21 |
| ۴ | په سيمه ييزه کچه د څېړنيزو پروژو او ټولنيزې ودې لپاره د مساعد چاپيريال شتون | 0.07 | 4 | 0.28 |
| ۵ | په ټولنه کې د زده کړو د لېوالتيا شتون | 0.07 | 4 | 0.28 |
| ٦ | د لوړو زده کړو قوانينو او مقرراتو کې تغير اوا اسانتياوې راتلل | 0.08 | 4 | 0.32 |
| ۷ | له نورو اړوندو دولتي او خصوصي پوهنځيو او ادارو سره د ښو اړيکو او همکارۍ شتون | 0.08 | 4 | 0.32 |
| ۸ | د خلکو کمزوری اقتصادي وضعيت | 0.08 | 1 | 0.08 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۹ | د مسلکي او با استعداده بشري قوې کمښت | 0.07 | 2 | 0.14 |
| ۱۰ | له ښوونځیو او مدارسو د فارغو زده کړیالانو د تعلیمي سویې ټیټوالی | 0.09 | 1 | 0.09 |
| ۱۱ | د خصوصي پوهنتونونو په کانکور ازموینو کې د ځوانانو کمرنگی ګډون | 0.08 | 1 | 0.08 |
| ۱۲ | له هېواده د ځوانانو فرار | 0.08 | 2 | 0.16 |
| ۱۳ | د کاري فرصتونو کموالی | 0.07 | 1 | 0.07 |
| **ټوټل** | | 1 | | 2.59 |

## د IE روِش




پورته گراف د شرعياتو پوهنځي د داخلي او بهرني محيطونو د تحليل مېتريکس واضح کوي چې په کې د داخلي محيط د لاملونو نمرې (2.69) او د بهرني محيط د عواملو نمرې (2.60) دي. د دواړو محيطونو د ترلاسه شويو نمرو په پای کې شرعياتو پوهنځی د حفظ و ثبات په وضعيت کې قرار لري چې شرعياتو پوهنځي په مارکېټ کې د خپلو اکاډميکو او څېړنيزو ورتياوو په پام کې نيولو سره له شته پياوړتياوو او فرصتونو څخه پوره گټه واخلي.

**د ستراتېژيک حالت موقف**




د داخلي او بهرني چاپيريال د څلور خانه يي مېتريکس په ارزونه کې د داخلي او بهرنيو عواملو پر بنسټ د شرعياتو پوهنځي لپاره بريدگره ستراتېژی موقف ټاکي. د پورته څلورو خانو په ترتيب سره شرعياتو پوهنځي ته بريدگره. رقابتي، محافظه کاره او دفاعي ستراتېژی خرگندېږي.

## د SWOT روِش

| | **پیاوړتیا (Strengths)** | **کمزورتیا (Weaknesses)** |
|---|---|---|
| **دا خلي عوامل**<br>**Internal factors**<br>**بهرني عوامل**<br>**External factors** | ۱- د باکیفیته تحصیلي برنامو شتون<br>۲- د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ترمنځ د همکارۍ شتون<br>۳- د محصل محوره او پر پایلو ولاړو زده کړیزو روشونو د تطبیقي ژمنتیا شتون<br>۴- استادانو، کارکوونکو او محصلینو ظرفیت لوړونې برنامو شتون<br>۵- د مسلکي او متعهدو استادانو کارکوونکو شتون<br>۶- په اجرائیوي برخه کې د ځانګړو پالیسیو، طرزالعملونو او میکانیزمونو شتون<br>۷- د څارنې او ارزونې د اغېزناک سیستم شتون<br>۸- له تدریسي بهیر څخه د محصلینو د رضایت شتون<br>۹- د ښو زده کړییزو امکاناتو او تجهیزاتو شتون | ۱- د پوهنځي لپاره ځانګړې علمي مجلې نه شتون<br>۲- د فوق لیسانس برنامو نه شتون<br>۳- د دایمي علمي کادر غړو کمښت<br>۴- د بدیلو مالي سرچینو نه شتون<br>۵- په نړیوالو او ملي ژورنالونو کې د پوهنځي د څېړنیزو مقالو کمښت<br>۶- په کارکوونکو د کاري حجم زیاتوالی |
| فرصتونه (Opportunities)<br>۱- د لوړو زده کړو وزارت لخوا څېړنیزې پراختیا او پیاوړتیا ته ځانګړې پاملرنه<br>۲- د شرعیاتو پوهنځي له نوم او شهرت څخه د خلکو رضایت<br>۳- د اکاډمیکي اعتبار اخیستنې زمینه سازی شتون<br>۴- په سیمه ییزه کچه د څېړنیزو پروژو او اقتصادي ودې لپاره د مساعد چاپېریال شتون<br>۵- په ټولنه کې د زده کړو د لېوالتیا شتون<br>۶- د لوړو زده کړو قوانینو او مقرراتو کې تغیر اوا اسانتیاوې راتلل<br>۷- له نورو اړوندو دولتي او خصوصي پوهنځیو او ادارو سره د ښو اړیکو او همکارۍ شتون | تهاجمي وضعیت(SO)<br>1- د (1s) په واسطه د (03) څخه ګټه اخیستل<br>2- د (s2) په واسطه د (o2) څخه ګټه اخیستل<br>3- د ( s3+s9) په واسطه د (o6) څخه ګټه اخیستل<br>4- د (s4) په واسطه د (o7) څخه ګټه اخیستل<br>5- (s5) په واسطه له (o4) څخه ګټه اخیستل<br>6- (s6) په واسطه له (o1) څخه ګټه اخیستل<br>7- (s5) په واسطه له (o5) څخه ګټه اخیستل | محافظه کارانه وضعیت(WO)<br>1- د (o1) په واسطه د (w5) پیاوړي کول<br>2- د (o9) په واسطه د (w2) پیاوړي کول<br>3- د (o8) په واسطه د (w3) پیاوړي کول<br>4- د (o5+o6) په واسطه د (w4) پیاوړي کول<br>5- د (o10) په واسطه د (w7) پیاوړي کول |
| ګواښونه (Threats)<br>۱- د خلکو کمزوی اقتصادي وضعیت<br>۲- د مسلکي او با استعداده بشري قوي کمښت<br>۳- له ښوونځیو او مدارسو د فارغو زده کړیالانو د تعلیمي سویې ټیټوالی<br>۴- د خصوصي پوهنتونونو په کانکور ازموینو کې د ځوانانو کمرنګې ګډون<br>۵- له هېواده د ځوانانو فرار<br>۶- د کاري فرصتونو کموالی | رقابتي وضعیت(ST)<br><br>2- د (s2) په واسطه د (t6) له منځه وړل<br>3- د (s3+s4+s5+s6) په واسطه د (t2) له منځه وړل<br>4- د (s8) په واسطه د (t5) له منځه وړل<br>5- د (s10) په واسطه د (t7) له منځه وړل | تدافعي وضعیت (WT)<br>1- د (w1) په پیاوړتیا سره د (t1) مخنیوی کول.<br>2- د (w2) په پیاوړتیا سره د (t6) مخنیوی کول.<br>3- د (w3) په پیاوړتیا سره د (t2+t3) مخنیوی کول.<br>4- د (w4) په پیاوړتیا سره د (t1) مخنیوی کول. |

## د شرعیاتو پوهنځي د ستراتېژيو ټاکنه

د شرعیاتو پوهنځي د ستراتېژيو ټاکنه د محیطي عواملو د تحلیل هغه پایله ده چې د پوهنځي اهدافو ته د رسېدو په موخه معقولې لارې، فعالیتونه او روشونه په ګوته کوي. ټاکل شوې ستراتېژیانې د پوهنځي او ډیپارټمنټ په کچه له پنځو کلونو نیولې آن تر یو کلنو فعالیتونو پورې مشخصوي.

۱- اداره او رهبري

- د مسلکي او مجربې بشري قوې ګمارنه
- د لوړو زده کړو قوانینو او لوایحو تطبیق
- اداري سیستم پیاوړتیا او پراختیا
- هوکړه لیکونه او د اړیکو پراختیا
- اداري سیستم پیاوړتیا او پراختیا

۲- علمي پروګرامونه او کیفیت لوړونه

- بشپړه اکاډمیکه اعبار اخیستنه
- عملي زده کړو او علمي سفرونو پراختیا
- د نصابونو دوره یي کتنه
- د نصابونو کلنۍ ارزونه
- کیفیت لوړونه او اعتبار ساتنه

۳- علمي او څېړنیز خدمات

- د څېړنیزو ستونزو نیازسنجي
- محصل محوره او پر پایلو ولاړ زده کړیز خدمات
- څېړنیزه وده او پرمختیا
- برېښنایي زده کړو پراختیا او وده

۴- ظرفیت لوړونه

- د استادانو ظرفیت لوړونه
- د اداري کارکوونکو ظرفیت لوړونه
- د محصلینو ظرفیت لوړونه

۵- مالي توانمندي

- عایداتو کې زیاتوالی

## د ستراتېژیو لومړیتوب

د (QSPM) مېټریکس پر اساس د ستراتېژیو د لومړیتوب ټاکنه د شرعیاتو پوهنځي ته دا فرصت ورکوي چې خپلو لویو، منځمهاله او لنډمهاله اهدافو ته واضح ستراتېژیاني وټاکي او هم له همدغې لارې د واضح جدولونو او په پام کې نیولو سره د خپلو راتلونکو پنځو کلونو د تطبیق ساحه مشخصه کړی شي. تابش پوهنتون د شرعیات پوهنځی د کمي ستراتېژۍ په تولو ټاکل شویو ستراتېژیو کې د خپلو لومړیتونو په پام کې نیولو سره (۲۰) ستراتېژیک لومړیتوبونه ټاکلي او غوره کړي دي.

| ستراتېژیاني / اصلي عوامل داخلي او بهرني | د ټولنې د ستونزو اړوند څېړنیزه نیاز سنجي | | | نوي څېړنیزو سافټویرونو روزنیزې برنامې | | د بهرنیو اړیکو او هوکړه لیکونو پراختیا | | د مصنوعي زیرکتیا په تړاو عامه پوهاوی | | د کمپیوټر لبب تجهیز او پراختیا | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | نمره | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب |
| **فرصتونه:** | | | | | | | | | | | |
| ۱- د لوړو زده کړو وزارت لخوا څېړنیزې پراختیا او پیاوړتیا ته ځانګړې پاملرنه | 0.08 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 | 3 | 0.24 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 |
| ۲- د شرعیاتو پوهنځي له نوم او شهرت څخه د خلکو رضایت | 0.08 | 3 | 0.24 | 3 | 0.24 | 3 | 0.24 | 3 | 0.24 | 3 | 0.24 |
| ۳- د اکاډمیکې اعتبار اخیستنې زمینه سازی شتون | 0.07 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 |
| ۴- په سیمه ییزه کچه د څېړنیزو پروژو لپاره د مساعد چاپیریال شتون | 0.07 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 |
| ۵- په ټولنه کې د زده کړو د لېوالتیا شتون | 0.07 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 |
| ۶- د لوړو زده کړو قوانینو او مقرراتو کې تغیر اوا اسانتیاوې راتلل | 0.08 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 | 3 | 0.24 | 3 | 0.24 | 4 | 0.32 |
| ۷- له نورو اړوندو دولتي او خصوصي پوهنځیو او ادارو سره د ښو اړیکو او همکارۍ شتون | 0.08 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 |
| **تهدیدونه:** | | | | | | | | | | | |
| ۱- د خلکو کمزوری اقتصادي وضعیت | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 |
| ۲- د مسلکي او با استعداده بشري قوې کمښت | 0.07 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 |
| ۳- له ښوونځیو او مدارسو د فارغو زده کړیالانو د تعلیمي سویې ټیټوالی | 0.09 | 1 | 0.09 | 1 | 0.09 | 1 | 0.09 | 1 | 0.09 | 1 | 0.09 |
| ۴- د خصوصي پوهنتونونو په کانکور ازموینو کې د ځوانانو کمرنګې ګډون | 0.08 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 |
| ۵- له هېواده د ځوانانو فرار | 0.08 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦- د کاري فرصتونو کموالی | 0.07 | 1 | 0.07 | 2 | 0.14 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 |
| **قوت:** | | | | | | | | | | | |
| ١- د باکیفیته تحصیلي برنامو شتون | 0.07 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 |
| ٢- د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ترمنځ د همکارۍ شتون | 0.06 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 |
| ٣- د محصل محوره او پر پایلو ولاړو زده کړیزو روشونو د تطبیقي ژمنتیا شتون | 0.07 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 |
| ۴- استادانو، کارکوونکو او محصلینو ظرفیت لوړوني برنامو شتون | 0.08 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 |
| ۵- د مسلکي او متعهدو استادانو کارکوونکو شتون | 0.07 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 |
| ٦- په اجرائیوي برخه کې د ځانګړو پالیسیو، طرزالعملونو او میکانیزمونو شتون | 0.07 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 |
| ٧- د څارنې او ارزونې د اغېزناک سیستم شتون | 0.07 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 |
| ٨- له تدریسي بهیر څخه د محصلینو د رضایت شتون | 0.08 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 | 3 | 0.24 | 3 | 0.24 | 3 | 0.24 |
| ٩- د نبو زده کړییزو امکاناتو او تجهیزاتو شتون | 0.07 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 |
| **کمزورتیا:** | | | | | | | | | | | |
| ١- د پوهنځي لپاره ځانګړې علمي مجلې نه شتون | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ٢- د فوق لیسانس برنامو نه شتون | 0.07 | 2 | 0.14 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 |
| ٣- د دایمي علمي کادر غړو کمښت | 0.08 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 |
| ۴- د بدیلو مالي سرچینو نه شتون | 0.05 | 1 | 0.05 | 2 | 0.1 | 2 | 0.1 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۵- په نړیوالو او ملي ژورنالونو کې د پوهنځي د څېړنیزو مقالو کمښت | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 |
| ٦- په کارکوونکو د کاري حجم زیاتوالی | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | 0.04 | 2 | 0.08 | 1 | 0.04 |
| **مجموعه** | **2** | | **5.28** | | **4.87** | | **5.03** | | **4.83** | | 4.91 |

د (QSPM) مېټریکس پر اساس د ستراتېژیو د لومړیتوب ټاکنه د شرعیات پوهنځي ته دا فرصت ورکوي چې خپلو لویو، منځمهاله او لنډمهاله اهدافو ته واضح ستراتېژیانې وټاکي او هم له همدغې لارې د واضح جدولونو او په پام کې نیولو سره د خپلو راتلونکو پنځو کلونو د تطبیق ساحه مشخصه کړی شي. تابش پوهنتون د شرعیات پوهنځی د کمي ستراتېژۍ په تولو ټاکل شویو ستراتېژیو کې د خپلو لومړیتونو په پام کې نیولو سره (۲۰) ستراتېژیک لومړیتوبونه ټاکلي او غوره کړي دي.

| ستراتېژیانې<br>اصلي عوامل داخلي او بهرني | د ټولنې د ستونزو اړوند څېړنیزه نیاز سنجي | | | نویو څېړنیزو سافتیویرونو روزنیزې برنامې | | د بهرنیو اړیکو او هوکړه لیکونو پراختیا | | د مصنوعي زیرکتیا په تړاو عامه پوهاوی | | د کمپیوټر لبب تجهیز او پراختیا | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **فرصتونه:** | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | نمره | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب |
| ۱- د لوړو زده کړو وزارت لخوا څېړنیزې پراختیا او پیاوړتیا ته ځانګړې پاملرنه | 0.08 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 |
